نعمان دوست
۲۰۲۳/۰۵/۱۲

# هر ډول ښکار بند!

له سرخکانو دوه لارې چې مهترلام ښار ته را ځي؛ نو کيڼ لاس ته پر يوه ديواله ښايسته شعار ليکل شوی:
هر ډول ښکار بند!
شايد،
دې حيوان ته کوم مرغه د همدې شعار کيسه کړې وه. دې خوشباوره ژوي، پر انسانانو باور وکړ، کلي ته راښکته شو او انسانانو بيا خپل عهد مات کړ.
و د خدای بندگانو!
اخر،
دا زموږ د غرونو ستري او لالهانده ژوي چېرته لاړ شي؟ دوی بيچاره ګان خو ويزه او پاسپورټ هم نه لري.
د چاپېريال ساتني او نورو اړوندو ادارو مسوولين بايد، هغه ليکل شوی قيمتي شعار په پوره جديت هرچيرته عملي کړي او هيچاته اجازه ورنکړي چې دا د غرونو اولادونه ښکار کړي.
رښتيا،
که د خدای ج رحم ته په تمه يوو؛ نو د حضرت محمد ص، د دې قيمتي سپارښتني هېرول نه دي په کار:

**"ارحموا من في الأرض يرحمكم من في السماء"**

--
عکس: کاپي، د ټولنيزو رسنيو په حواله؛ په نورستان کې تازه ښکار شوی حيوان.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ